# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

انجنیر داؤد اڅک
۱۲ سپتمبر ۲۰۱۸

## افغانستان ته د زلمي خلیل زاد د راتګ په هکله بیل اندونه

مورِ او تاسو ته معلومه ده چي جنګ ځپلی افغانستان د ۱۹ مي پیړی څخه د لویو لوبغاړو د غتي لوبي ډګر کرځیدلی او د هم هغه وخت څخه د خونړیو او وحشي جګړو کوربه سوی دی، تل ئي پر پخپل تېر تودې او سړې منلي او پخپله ناارمه غیرِ کي ئي په ملیونو یتمیان لوی کړیدي. که څه هم د ساړه جنګ ستر کرکټرونه په بیلو وختو کي عوض سویدي او افغان اولس د وخت په یوه محدوده کي ارام نفس کښلی دی خو په ټوله کي سوړ جنګ د مځکي د اقلیم په شان ورځ تر بلي مخ پر ګرمیدو دی او د سپتمر د یولسمي نیټي وروسته خصوصاً په افغانستان او سوریه کي خطرناک او دریم پړاو ته داخل سویدی.

خطرناک پدي مفهوم: که روان سوړ جنګ په همدي شدت دوام ولري نداچي په جنګ کي شکیل هیوادونه به بربادیږي بلکه د امکانه به لیري نه وي چي دغه د ساړه جنګ بڅرکي به یوه ورځ د جنګ میکرانو لمن ته هم ور ورسیږي او د ګرم جنګ لمبي به په نړی کي خپرې سي .

کله چي د سپتمر د ۱۱ نیټي نه وروسته امریکایانو د طالبانو حکومت رانسکور کړ نو د همدغه ۲۰۰۱ میلادي کال د ډسمبر پر ۱۳مه نیټه د المان په بن ښار کي د شمال ائتلاف په ګډون جهادي تنظیمو او مرحوم ظاهرشاه او پلویانو ئي پر یوه موقتي حکومت باندي هوکړه وکړه، چي وروسته به انتقالي او بیا به انتخابي حکومت را منځته کیږي.

اوس ډیرئ د نظر خاوندان پدي اند دي چي د بن د لومړي او دوهم کنفرانس اصلي مهندس ښاغلی زلمی خلیل زاد دی چي هیڅ ډول لاسته راوړنه نلري، او باور لري چي د خلیل زاد راتګ به افغانستان ته کومه ګټه ونکړي.

اما ځني نور د نظر خاوندان بیا خوشبینه دي او عقیده لري چي د خلیل زاد راتګ د افغانستان په ګټه دی او انتظار باسي چي زلمی خلیل زاد به د ملي وحدت، صلحي او ثبات په ګټه مثبت بدلونونه او اصلاحات رامنځته کړي .

ګرانو لوستونکو په بن کي د موقتي حکومت د جوړیدو وروسته طالبان دړي وړي سول، ځوک مړه سول، ځوک بندي سول، ځوک فراره سول او ځوک هم ارام پر خپلو کورو کښینستل. داچي د بن کنفرانس بنسټ پر صداقت ولاړ نه وو او د لومړی ورځي څخه ئي په افغانستان کي د صلحي د ټینګښت عزم او تصمیم نه درلود ځکه نو طالبان بیا را ژوندي او جنګ ته مجبوره سول، څو چي راټول سول، منظم او منسجم سول .دغه لامل چي طالبان ځنګه او ولي دوباره جنګ ته وګمارل سول باید په هغه حکومتونو کي وپلټل سي کوم چي ښاغلی خلیل زاد ئي مهندس وو.

که چیري د بن کنفرانس په رشتیا سره د افغانستان صلحي، ثبات، ترقي او ارامي ته ړمن وای نو د شړل سوو، توراندو او بکیل سوو تنظیمو پر ځای ئي باید د ظاهر شاه په موقته مشري سره وطندوسته، ملي او روڼ اندي افغاني کادرونه او شخصیتونه په یوه نوي او دیموکراتیک حکومت کي سره راټول کړي وای. ظاهر شاه که افغانستان ته لږ کار کړی وو یا ډیر پر دې مسئله اوس بحث نه کوو خو زه دعوا لرم چي د بن د کنفرانس تر ټولو ګډون والو پیژندل سوی، مستقیل ، ملي او د یوالي سمبول ظاهر شاه وو چي متأسفانه د همدغه خلیل زاد په مهارت د سیاسي ډګر څخه و ایستل سو .

اوس بیله شکه چي د افغانستان په جنګ کي پاکستان خپل زهرجن رول لوبوي اما د چا په زور او د چا په پیسو؟ که چیري پاکستان رشتیا هم دومره سرکښه وي چي د ملل متحد، ناتو په تیره بیا د امریکا خبره نه مني او د امریکا پر ضد تروریستان روزي بیا نو امریکا ولي د عراق، لیبیا او افغانستان په شان د ملل متحد د منشور د ۵۱ مادې څخه په استفاده په پاکستان کي دننه عملیات نه کوي او د تروریزم جرړي د منځه نه وړی؟

زما په اند د افغانستان اوسنی مشکل یا اوسنی ناخوالي ډیره ژوره ریښه لري، د اشخاصو او افرادو تر قدرت او ارادې وتلي خبره ده او زه باور لرم چي د افغانستان اوسنی په وینو رنګ تقدیر، اشخاص او افراد نسي بدلولای ځکه چي د افغانستان معضله مستقیآ د سترو لوبغاړو د پراخو او ژورو ستراتیژیو سره اړیکه لري، تر څو چي د لوبغاړو په ستراتیژیو کي بدلون او اصلاحات رامنځته نسي، انساني نسي سوړ جنګ به پر مظلومو اولسونو د اور په شان ګرم او تحمیل وي.

بلي! که چیري ښاغلی زلمی خلیل زاد د ستراتیژیکو بدلونونو سره په پوره صلاحیت باندي افغانستان ته را استول سوی وي او د افغانستان ملي ګټو ته په احترام چي صلحه ئي سرداره ده ړمن سوی وي بیا نو ډیر امکان سته چي اوسنی زړه بوګنونکی حالت به د افغان مظلوم اوس په ګټه تغیی‌ر وکړي، په دې شرط چي تر هرڅه لومړی باید په افغانستان کي یو متعهد، سالم او ملي حکومت رامنځته سي او که چیري د روان حالت په شان په دولتي سکټور کي لازم اصلاحات رامنځته نه سي ، ملي ، مترقي، وطندوسته، صلحي او د وطن ابادی ته ړمن کادرونه په حکومت کي ځای پر ځای نسي بیا نو هغه متل دی چي وایي :

« د ړیري ئي را واخستل پر بریت ئي کښیښول » .

یعني که حکومتي قدرت او تغیی‌رات د نن په شان د یوې محدودي حلقي پلاس کي وي چي والی وزیر سي وزیر والی سي ، وکیل سفیر سي سفیر والی یا وزیر سي، پدې صورت کي به ځوریدلي افغانان د ارامي او ثبات په ګټه د هیڅ ډول بنیادي بدلون شاهدان و نه اوسي .

دا هم تر لمر روښانه ده چي زلمی خلیل زاد به د تل په شان د امریکایي ګټو لپاره امریکایي اهداف تعقیبوي نه د افغانستان.

لنډه دا: تر څو چي د افغان رنځیدلي اولس غوښتنو ته چي په سر کي ئي د سراسري او تل پاتي صلحي تآمین دی احترام و نه سي او په هکله ئي عملي او کوټلي ګامونه پورته نسي د مهرو تغیی‌ر او تبدیل به جنګ ځپلي افغانستان ته هیڅ کومه ګټه ونلري.

اوس د قراینو څخه داسي ښکاري چي د صلحي د تآمین په هکله لا تر اوسه پوري تصمیم ندی نیول سوی او دلیل ئي مخکي د مخکي د روسیي د غونډي ردول دي د امریکا لخوا چي د صلحي په نیت رابلل کیږي . امریکا وایي چي د روسانو غونډه صلحه نسي رامنځته کولای. پداسي حال کي چي د ساړه جنګ بنسټیز لامل همدغه د امریکا او روسیي اختلافات دي .

زما وړانديز دادی چي روسيه بيله شکه په نظامي لحاظ په سيمه او نړۍ کي د امريکا سره موازي قدرت دی، وړانديزونه ئي بايد جدي ونيول سي او توافق ورسره وسي . که نه سوړ جنګ به همداسي ګرم وي او په منځ کي به مظلوم اولسونه او مخ پر انکشافه هيوادونه د سونګ د موادو په شان سوځي .
پايله داچي اوبه بايد د سره پاکي سي او تر څو چي د سترو لوبغاړو په جيوپالتيک او جيوستراتيژيکو پلانو کي مثبت تغۍرات، اصلاحات او بيا کتنه وه نسي همدغه تراجدۍ به رواني وي. يعني (همدغه اش به وي او همدغه کاسه).
۱۱ ــ ۹ ـ ۲۰۱۸